## ضاحیة
هغه ځمکه ده چې دیوال ونلري. دری:[ ضاحیة]

## ضامن
هغه شخص ته ویل کیږي چې د بل شخص یا اشخاصو تضمین د هغو تعهداتو پر اساس چې پخوایې ترسره کړي، کوي.

( تضمین ته دې مراجعه وشي). دری: [ضامن]

## ضبط
د قانون له مخې د هغو شیانو مصادره کول دي چې اساساً د مجرم او یا په ارتکاب شوي جرم پورې اړه ولري.
دری:[ضبط]

## ضحل
هغو اوبو ته ویل کیږي چې ژوروالی نلري او کمې وي.
دری:[ضحل]

## ضرابخانه
هغه تثبیت شوی ځای چې د مسکوکاتو د جوړولو (ضرب وهلو) په منظور د قانون له حکمونو سره سم اختصاص ورکړ شوی وي. دری:[ضرابخانه]

## ضرب
هغه مادي شدید عمل دی چې د شخص پر بدن واردیږي او په پایله کې یې علامه په بدن کې څرګندیږي.
دری:[ضرب]

## ضرب الأجل
د عدلي، قضایي او یا اداري مراجعو له خوا یو غیر مشروع عمل او یا تصرف ته د پای ورکولو او یا هم د یو مفید عمل د پیل کولو او د ځانګړي وخت د ټاکلو په معنی استعمالیږي. دری: [ضرب الاجل]

## ضرر
د هغه تا وان له وارد یدو څخه عبارت دی چې د شخص او یا بل چا له خوا د هغه پر حقوقو، مالونو او شتمنیو باندې پیدا شي. دری: [ضرر]

## ضرر معنوي
هغه تاوان دی چې د شخص پر شئوناتو او یا معنوي حقوقو باندې وارد شي. دری: [ضرر معنوی]

## ضرورت
د هغه غیر عادي او ځانګړي حالت څخه عبارت دی چې د هغې په لړکې د ځینو هغو شیانو او حقونو څخه استفاده کول چې په عادي حالت کې شخص ته روانه وي، د انساني نفس او ژوند د خوندي ساتلو لپاره په مؤقتي ډول په داسې توګه روا کیږي چې د هغې حالت د پای ته رسېدلو څخه وروسته یې اصلی خاوند ته ادا کول لازم دي. دری: [ضرورت]

## ضمان
هغه عوض یا تاوان دی چې پس د خسارې له تثبیت څخه چې د یو چا پرعین او یا پرحقوقو باندې وارد شوی وي، د هغه ورکړه لازمیږي. دری: [ضمان]

## ضمان او قطع
هغه حالت چې په هغه کې د غله لاس پرې کیږي او مسروقه مال خاوند ته سپارل کیږي. دری: [ضمان و قطع]

## ضمانت
عبارت د ژمني څخه دی چه یو شخص د بل شخص لازم الاداء وجیبه په غاړه واخلي. د نوموړي شخص د نه ادا کولو په صورت، ضامن د هغې په اجراء کولو مکلف دی. دری: [ضمانت]

## ضمني الغاء

له هغه حالت څخه عبارت دی چې نوی قانون د الغا له مراتبو د ذکر څخه پرته له پخواني قانون سره په مخالفت کې وي او د پخواني قانون مواد بې اعتباره کړي.
دری:[الغاء ضمنی]

## ضمني کوژده

هغه کوژده ده چې خطاب کوونکی، خطاب شوی ته داسې کلمې او الفاظ کاروي چې په صریح او واضح توګه په راتلونکي کې د کوژدې او واده معنی نلري خو په ضمني او کنایه توګه په راتلونکي کې د کوژدې او واده معنی ورکوي. دری:[نامزدی ضمنی]

## ضمني نسخ

هغه نسخه ده چې په دوه یم حکم کې په صریحه توګه نه بلکې په ضمني توګه پخوانی حکم له منځه وړي.
دری: [نسخ ضمنی]

## ضمني نکول

هغه ډول یمین دی چې د شخص له چوپتیا یا کړو څخه دا جوته شي چې قسم نه ترسره کوي. (نکول ته دې مراجعه وشي). دری: [نکول ضمنی]